# شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

شنبه| د ربیع الثاني ۲۳-۱٤٤٦ل س/ د لړم ٥-۱٤۰۳ل ل/ د اکتوبر ۲٦-۲۰۲٤ز/خلورم کال / ۱۲۰ گڼه/ ٤ مخیزه




**په صبر کولو سره ګناهونه بخښل کېږي**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:** کله، چي يو مؤمن ته ستړيا، ناروغي، خفګان، تکليف او يا غم ورپېښ سي، آن دا چي اغزی ئې په پښه کښي لاړ سي؛ نو د دې هر يوه په بدل کښي الله جل جلاله د ده ګناهونه معافوي.

[بخاری شريف باب ماجاءفی کفارة المرض رقم الحديث ٥٦٤١]

**با صبر کردن گناهان بخشیده میشود**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:** وقتی یک مؤمن در خستگی، مریضی، غم، تکلیف و یا اندوه قرار بیگیرد، یا حتی خار در پایش بخلد در مقابل این همه خداوند متعال گناهان وی را می بخشد.

[بخاری شريف باب ماجاءفی کفارة المرض رقم الحديث ٥٦٤١]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سرمقاله

### نصب ترازوهای انالوگ جلوگیری از فرار عواید ملی

ساختار هر سازمان متشکل از مجموعه عناصری است که به طور منظم و برای انجام دادن وظایفی معین و در شرایطی خاص سازمان یافته اند. بدیهی است اگر شرایط تغییر کند یا دگرگونی در وظایف ایجاد شود ساختار سازمانی تغییر می کند، گمرکات نیز مانند سایر دستگاه های رسمی و دولتی به منظور تحقق اهداف و انجام وظایف معینی پدید آمده است و اکنون نظر به شرایط جدید و افزایش وظایف نوین و عملکرد ها متفاوت به نظر می رسد. اداره گمرکات افغانستان باید برای بدست آوردن اهداف پیشرو باید مکانیزه بسازد تا بتواند جوابگوی نیازمندی های کنونی کشور در رابطه به مبادلات اقتصادی و تجارتی با همسایگان و کشورهای فرامنطقه باشد. بنا بر این ملحوظ اداره گمرکات گام های بلندی برای حکومتداری خوب و ثبات مالی برداشته است. این اداره همواره تلاش نموده تا سهولت های لازم را برای تجار و سرمایه گذار ایجاد کند؛ تا زمینه برای تجار و سرمایه گذار فراهم شوند که در کشور سرمایه گذاری نمایند. وزارت مالیه ترازوی را که قبلاً به شکل غیر معیاری در گمرك ولایت کابل نصب شده بود به ارزش دو میلیون افغانی ترمیم وبه بهره برداری سپرد. این ترازو با داشتن ظرفیت تشخیص (۱۲۰) تُن وزن دارای (۲۴) متر طول و (۳) متر عرض می باشد. ترازوی انالوك یکی از جمله دستاوردهای اداره گمرک به شمار میرود که وزارت مالیه در تمام گمرکات کشور ترازوهای انالوك و دیجیتالی معیاری را نصب کرده که این کار باعث جلوگیری از وزن اضافی می شود. این ترازوها برای تشخیص اموال تجاری معمولاً در گمرکات به کار میرود. این ترازو در واقع یک ترازوی انالوك است که به شکل یک پل طراحی شده و وسیله‌ی نقلیه با عبور و قرار گرفتن بر روی آن وزن می‌شود. که در آن موادی نظیر فلز، بتُن و یا ترکیبی از فلز و بتُن مورد استفاده قرار گرفته است. این ساختار مکانیکی معمولاً روی یک فونداسیون بتُنی قرار می‌گیرد. تجهیز گمرکات کشور به ترازوی انالوك میزان قابل توجهی مشکلات مربوط به صادرات و واردات کالاها را کاهش می دهد و سرعت لازم را در ارائه خدمات به تجار و سرمایه گذار فراهم می آورد. به منظور تعیین وزن دقیق اموال وارداتی و صادراتی در گمرکات و جلوگیری از فرار عواید ملی، در تمام گمرکات کشور ترازوهای معیاری نصب شده که اموال تجار را بسیار سریع و آسان وزن میکند و زمان کمی را در برمی گیرد.

**با احترام**

**اداره**

## د ګمرکونو او عوایدو نوی معین معرفي سو



الحاج مفتي عبدالمتین سعید، چي د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د حکم پر اساس د ګمرکونو او عوایدو د معین په توګه ټاکل سوی وو، د ګمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کي د ترتیب سویو مراسمو په ترڅ کي د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند له خوا د مالیې وزارت مسئولینو او کارکوونکو ته رسماً ور معرفي سو. د ګمرکونو او عوایدو معین د معرفت په دغو مراسمو کي د مالیې وزیر په شمول د دغه وزارت یو شمېر رئیسانو او مسئولینو هم ګډون کړی وو. د مالیې وزیر د خپلو خبرو په ترڅ کي د دغه وزارت مسئولینو ته وویل، چي خپل مسئولیتونه په پام کي ساتئ، داسي نه، چي پوسټ او موقعیت ستاسي ارزښت ته بدلون ورکړي. د خپلو پوسټونو څخه د نظام د پیاوړتیا له پاره ګټه پورته او خلکو ته د پام وړ خدمتونه وړاندي کړئ، هغه زیاته کړه، چي خپل مسئولیتونه په صداقت او اخلاص پر مخ یوسئ او د ولس غوښتني په ورین تندي واورئ او پر وخت رسېدنه ورته وکړئ. د عوایدو او ګمرکونو نوي معین د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ او د مالیې وزارت له باور څخه مننه وکړه او زیاته ئې کړه، چي راسپارل سوی ځای او پوسټ به هیڅکله د نظام د پیاوړتیا او خلکو ته د خدمت له پاره زموږ په چلند کي بدلون را نه ولي. موږ تل راسپارل سوي مسئولیتونه په پوره ایمانداری او صداقت پرمخ وړي دي، له دې وروسته به هم خپل راسپارل سوی مسئولیت په ټول توان او اخلاص سره ترسره او خلکو ته د اسانتیاوو برابرولو او د نظام د اهدافو د تحقق په برخه کي به له هیڅ راز هلو ځلو ډډه ونه کړم. هغه له مسئولینو وغوښتل، چي د مالیې وزارت د موخو د ترلاسه کولو په برخه کي همکاري وکړي. د یادوني وړ ده، چي الحاج مفتي عبدالمتین سعید تر دې وړاندي د ګمرکونو د لوی رئیس په توګه دنده ترسره کوله، چي د نوموړي تر رهبرۍ او مدیریت لاندي د ګمرکونو چاري په غوره توګه پرمخ رواني او خلکو ته په ښه ډول خدمات وړاندي کېدل.

## در نهمین جلسه کابینه گزارش عواید غیر مالیاتی ربع دوم وزارت مالیه تائید گردید

در نهمین جلسه کابینه امارت اسلامی افغانستان که به ریاست الحاج ملا محمد حسن آخند، رئیس الوزراء برگزار شده بود، گزارش عواید غیر مالیاتی ربع دوم سال جاری وزارت مالیه تائید گردیده و به تمام وزارتخانه ها و ادارات مستقل توصیه گردید، تا پیشنهادات تذکر یافته در آن گزارش را در مورد بودجه انکشافی مد نظر بگیرند. همچنان در این جلسه پیرامون موضوعات و مسائل مهم دیگر نیز بحث و تبادل نظر صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ گردید. عواید غیر مالیاتی به عواید اطلاق می شود که دولت از طریق منابع غیرمالیاتی مانند خدمات عمومی، صدور جواز و فروش زمین یا خانه و غیره کسب می کنند و در تأمین بودجه ملی نقش اساسی دارد. وزارت مالیه پروسه جمع آوری این عواید را بطور شفاف به پیش می برد.

## د کابل په ګمرک کي د سوداګریزو توکو د وزن معلومولو له پاره یوه پایه تله ترمیم او ګټې اخیستني ته وسپارل سوه

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د کابل ولایت په ګمرک کي د څه باندي دوه میلیونه افغانیو په ارزښت د صادراتي او وارداتي سوداګریزو توکو د وزن معلومولو له پاره یوه پایه انالوګ تله ترمیم او ګټې اخیستني ته وسپارله. یاده تله، د (۱۲۰) ټنه وزن معلومولو په ظرفیت سره (۲۴) متره اوږوالی او (۳) متره پلنوالی لري. دا تله پخوا غیر معیاري نصب سوې وه، چي اوسمهال ترمیم او په دې برخه کي سته ستونزي هم ور سره حل سوي دي. د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د هیواد په ټولو ګمرکونو کي معیاري تلي نصب کړي دي، چي له دې سره د سوداګریزو توکو د اضافه وزن او د ملي عوایدو له ضایع کېدو څخه مخنیوي سوی دئ.





**د پکتیکا په ګمرک کي د لمریزي برېښنا سیستم جوړ او ګټې اخیستني ته وسپارل سو**

م ۲




**تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي**

م ۲




**د ګمرکونو د ساتني او عملیاتي قطعې رهبري او مل پلاوي د هیواد شمال زون ته سفر وکړ**

م ۲



**د مستوفیتونو د ټکنالوژۍ مدیرانو له پاره د"Hardware and Network" تر سرلیک لاندي روزنیز پروګرام جوړ سو**

م ۲




**شاهراه، کابل- چین: اهمیت اقتصادی و چالش ها**

م ۳




**افغانستان ممکن د بریکس په اوسنۍ یا راتلونکې غونډه کي ګډون وکړي**

م ٤

# د پکتیکا په ګمرک کي د لمریزي برېښنا سیستم جوړ او ګټې اخیستني ته وسپارل سو





د مالیې وزارت د ګمرکونو د عصري کولو او برېښنایي سیستمونو د فعالولو په لړ کي، د ګمرکونو لوی ریاست د پکتیکا ګمرک د برېښنا چمتو کولو له پاره د (۷،۲) میلیونه افغانیو په ارزښت د (٦۰) کیلو واټه په ظرفیت سره د لمریزي برېښنا سیستم جوړ او ګټې اخیستني ته وسپاره. له دې وړاندي په یاد ګمرک کي له جنراتور څخه ګټه اخیستل کېده، چي په میاشتني ډول ئې شاوخوا (۲) زره لېټره تېل مصرفول. د لمریزي برېښنا سیستم په فعالولو سره له یوې خوا د تېلو په لګښت کي سپما راځي او له بلي خوا د یاد ګمرک په کارونو کي هم چټکوالی رامنځته کېږي. د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت په دې هڅه کي دئ، چي د هیواد په ټولو ګمرکونو کي سوداګرو او کارکوونکو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه اړین تجهیزات او امکانات برابر کړي.

# د بلخ ولایت د ګمرک نویو ګومارل سویو کارکوونکو ته روزنیز پروګرام پیل سو




د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د روزونکو له لوري د ساحوي روزنیزو پروګرامونو په سلسله کي د بلخ ګمرک ریاست ګمرکي اداري (٥۰) تنو کارکوونکو ته د ګمرکي مسایلو او قوانینو د زده کړي او د کارکوونکو د ظرفیت لوړوني په موخه په عملي او نظري ډول د ګمرکونو قانون، ګمرکي کړنلارو، ګمرکي بیې ټاکني، تعرفې او ګمرګي اظهارلیکونو د خانه پري په تړاو ابتدایي روزنیز پروګرام پیل سو. دغه روزنیز پروګرام به یوه میاشت دوام وکړي او د ټولو ګمرکي چارو په تړاو به یادو کارکوونکو ته روزنه ورکړي.

# تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نیمروز، فراه، کندهار، هرات او ننګرهار په ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کي (۱۴۴۳) کیلو ګرامه انساني طبي درمل، (۲۴۸۰) کیلو ګرامه کوچ، (۸۹۲) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۱۳۸۵) کیلو ګرامه زراعتي تخم، (۳۰۴) دانې بېلابېل ډوله څیرک موبایلونه، (۱۰۵۲) کیلو ګرامه رُب، (٥۸۸) کیلو ګرامه ګوړه، (۲۷٥۸) کیلو ګرامه مکروني، (٥۴۰) کیلو ګرامه بیسکوټ، (۱۰۴۰) کیلو ګرامه مالګه، (۱۱۸۰) کیلو ګرامه نباتي غوړي، (۳۰۰) کیلو ګرامه خمیر مایه، (٥۲۰) کیلو ګرامه قهوه او (۲۹٥) کیلو ګرامه ککاو شامل دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کي دوامداره فعالیت کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

# د ګمرکونو د ساتني او عملیاتي قطعې رهبري او مل پلاوي د هیواد شمال زون ته سفر وکړ




د مالیې وزارت د ګمرکونو د ساتني او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې عمومي قومندان پاسوال محترم حافظ مولوي محمد نور عبید په مشرۍ، چي د ښوونې او روزني استازو ئې هم ملتیا کوله د چارو د ارزوني په موخه د بغلان، سمنګان، سرپل، فاریاب، بدخشان، تخار، کندوز، بلخ او جوزجان ولایتونو د ګمرکونو او مستوفیتونو له امنیتي ټولیو او مفرزو څخه لیدنه او ارزونه وکړه. د دې پلاوي د سفر موخه د ګمرکونو او مستوفیتونو د امنیتي برخو سروې کول، د لوژیستیکي او مخابروي اجناسو بیا تسجیل/ تثبیت او موجودي، د اړوندو سیمو کروکي نقشه اخیستل او د اداري سیستم د لا پیاوړتیا او چټکتیا په موخه مسئولینو ته توصیه او لارښووني کول وو. یاد پلاوي د ګمرکونو د ساتني او عملیاتي قطعې د هري څانګې د استونګنځایونو، تعلیمي بهیر او نظامي وسایلو هر اړخیزه ارزونه او معاینه وکړه، مسئولینو ته ئې په اړوندو برخو کي لازم هدایات وړاندي کړل او له مرکز سره د لا همغږۍ او پر تاکلي وخت د راپورونو پر شریکولو ئې ټینګار وکړ. تللي پلاوي د چارو د ارزوني ترڅنګ په مربوطه برخو کي د نظامي مسئولینو کړني وسایلي او د شته ستونزو د حل ډاډ ئې ورکړ.

# د مستوفیتونو د ټکنالوژۍ مدیرانو له پاره د"Hardware and Network" تر سرلیک لاندي روزنیز پروګرام جوړ سو

د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست د ولایتي مستوفیتونو د ټکنالوژۍ مدیرانو له پاره د"Hardware and Network" تر سرلیك لاندي روزنیز پروګرام جوړ کړ.

په هغه ناسته کي، چي په همدې موخه د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د غونډو په تالار کي جوړه سوې وه، د ارتباطي او معلوماتي ټکنالوژۍ رئیس انجنیر عمران احمد فرهان، د دعوت او ارشاد ریاست مدرس او کفیل مفتي رحیم الله عرفان او د مالیې وزارت یو شمېر مسئولینو ګډون کړی وو. د ارتباطي او معلوماتي ټکنالوژۍ رئیس د دغه پروګرام په پرانیستې وینا کي وویل، چي دا به ستاسي د ظرفیت لوړوني له پاره لومړی او وروستی پروګرام نه وي، موږ په پام کي لرو، چي ستاسي لپاره انلاین پروګرامونه هم جوړ کړو؛ ترڅو په دې برخه کي مو ستونزي هواري او کارونه په احسن ډول پرمخ ولاړ سي. د دې ډول پروګرامونو په جوړولو سره نه یوازي امارتي ادارو بلکي په خصوصي برخو کي به هم تاسي ته کاري زمینې برابري سي. هغه له ګډونوالو څخه وغوښتل، چي ټول درسونه په جدي توګه تعقیب او خپله مسلکي پوهه لا لوړه کړي.



د دعوت او ارشاد ریاست مدرس او کفیل په خپلو خبرو کي وویل، چي د دې پروګرام موخه د مهارتونو زده کړه او خلکو او نظام ته د غوره خدمتونو وړاندي کول دي، چي تاسي ته ډېر ثواب پکښې پروت دئ. زموږ د پیغمبر په یوه روایت کي راغلي؛ که یو څوك د یو کس اړتیاوي پوره کړي، لوی رب به د هغه کس اړتیاوي ور پوره کوي. تاسي له هغه پوهي څخه په استفادې، چي ترلاسه کوئ ئې، د خلکو ستونزي حل او هغوی ته غوره خدمتونه وړاندي کوئ، چي په بدل کي ئې بیا دنیوي او اوخروي اجرونه ترلاسه کوئ. د یادوني وړ ده، چي دغه پروګرام به (۳) اوونۍ دوام وکړي، چي په هغه کي به د هارډویر او شبکې"Hardware and Network" اړوند ټول مسائل ګډونوالو ته تدریس سي.

# برنامه آموزشی آنلاین در باره عواید غیرمالیاتی برای کارمندان مستوفیت ها دایر گردید

ریاست منابع بشری وزارت مالیه برنامه آموزشی آنلاین یک روزه را در باره عواید غیر مالیاتی به کارمندان مستوفیت های ولایات دایر کرد. در این برنامه مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری، مولوی عبدالمجید نجیب الله، رئیس انسجام و انکشاف عواید ولایات مسئولین بخش مربوط مستوفیت ها اشتراک داشتند. مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری در سخنان افتتاحیه این برنامه گفت، این برنامه برای انکشاف مهارت های شما بخاطر ارائه خدمات بهتر راه اندازی گردیده است. با استفاده از این برنامه مهارت های مسلکی خویش را بالا برده و مسئولیت های خود را به گونه احسن انجام دهید. اگر متوجه مسئولیت های خویش نشده و ظرفیت تان را ارتقاء ندهید، تمام تلاش های که صورت گرفته عبث و بیهوده خواهد بود. مولوی عبدالمجید نجیب الله، رئیس انسجام و انکشاف عواید ولایات طی سخنانش گفت، کار که بر عهده شما گذاشته شده، امانتی است که مسئولیت آنرا پذیرفته و کوتاهی نکنید. هر نوع سستی در انجام مسئولیت های شغلی، خروج از امانت داری به حساب می آید. از امکانات و برنامه های که توسط وزارت مالیه به شما فراهم شده بخاطر انجام مسئولیت به شکلی مسلکی استفاده کنید. گفتنی است که در این برنامه به اشتراک کنندگان موضوعات مرتبط به عواید غیر مالیاتی به صورت همه جانبه از طرف تریندان مجرب اکادمی ملی عواید و گمرکات تشریح می گردد.



شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# شاهراه، کابل- چین: اهمیت اقتصادی و چالش ها

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

مرز میان افغانستان و چین، مرز کوتاه در منتهی الیه شمال شرقی افغانستان، دورتر از بسیاری از نقاط کشور یا مناطق شهری هر دو کشور، در انتهای دهلیز طولانی و باریک واخان قرار دارد. طرف چینی مرز دره چالاچیگو است. این مرز توسط چندین گردنه کوهستانی از جمله گذرگاه واخجیر در جنوب و گردنه تگرمانسو در شمال می‌گذرد. ولایت بدخشان با کشور های چین، تاجیکستان و پاکستان سرحد مشترك داشته و دارای قدامت تاریخی میباشد. این آستان با وضعیت جغرافیائی که دارد از اهیمت ویژه اقتصادی، سیاسی و نظامی بر خوردار بوده و ظرفیت های بالقوه ای برای رشد اقتصادی افغانستان و به ویژه خود این ولایت را دارد. بدخشان از دید گاه تاریخی مشترکات فرهنگی و زبانی با سه کشور همسایه افغانستان داشته و سالیان دراز در ترویج زبان و ادبیات فارسی درین حوزه نقش فعال داشته است. بدخشان با وجود اینکه از جاذبه ویژه ای برای جذب جهان گردان داشته که تسریع رشد اقتصادی آن از ناحیه توجه به ا ین صنعت ضریب بالائی دارد. بر علاوه دارای منابع طبیعی فروان چون نفت و گاز، منابع آبی فراوان با ظرفیت فوق العاده انرژی، سنگ های قمیتی و فلزات نادر و کمیاب به ارزش ملیارد ها دالر میباشد. (ضیائی,۲۰۱۳) ولایت پنجشیر در شمال شرقی افغانستان و کابل پایتخت کشور واقع شده و فاصله این ولایت تا کابل ۱۲۰ کیلومتر است. این منطقه تا سال ۱۳۸۳ بخشی از ولایت پروان به‌حساب می‌آمد، اما پس از آن مستقل شد. پنجشیر هم‌اکنون با هفت ولایت تخار، بغلان، کاپیسا، نورستان، بدخشان، لغمان و پروان همسایه است. از نظر جغرافیایی این ولایت کوچك بیش از ۱۲٦ دره بزرگ دارد که ده‌ها دره کوچك از آنها منشعب می‌شوند. پنجشیر به‌دلیل وجود کوه‌های بلند و یخچال‌های طبیعی می‌تواند هنگام زمستان برف زیادی را ذخیره‌سازی کند و به همین دلیل منطقه‌ای پرآب به شمار می‌رود. در فصل‌های گرم چشمه‌های زیادی به‌دلیل آب شدن برف ارتفاعات در پنجشیر شکل می‌گیرند که همه به رودخانه اصلی این منطقه مشهور به دریای پنجشیر می‌ریزند. اما درین نوشته مختصر بر اهمیت اقتصادی انکشاف شاهراه کابل- چین و تسهیل و توسعه تجارت با کشور چین که گفته میشود با نفوس نزدیك به یك و نیم ملیاردی خویش بیشتر از ۲۲ فیصد تمام نفوس جهان امروز را در خود جای داده است میپردازیم. چین در شرق افغانستان قرار داشته و با افغانستان تقریبا ٦٥ کیلومتر سرحد مشترك دارد که ولایت بدخشان را با ولایت سینکیانگ چین و شهر های کاشغر، فارامای، شیخ هنزه، خاش و اورومچی وصل می کند. طول سرك فیض آباد الی سرحد چین که به ولسوالی تاشقرغان چین وصل میگردد تقریبا ٤٩٥ کیلومتر بوده و از بلندی های مرزی به ارتفاع ٥۰۰۰ متر از سطح بحر عبور میکند. شاهراه چین فیض آباد که همانا تجدید و نوسازی راه ابریشم تاریخی میباشد که برای چندین قرن تجارت بین چین و سائر کشور های آسیایی و اروپایی را تسهیل نموده وشرق و غرب جهان را به هم پیوند میداد. فاصله فیض آباد تا ولسوالی تاشقرغان چین ٤٩٥ کیلو متر. سرك فیض آباد تا ولسوالی بهارك




٤٧ کیلو متر. سرك ولسوالی بهارك تا ولایت پنجشیر ۳۰۰ کیلو متر. ولایت پنجشیر تا ولایت کابل: ۱۲۰ کیلو متر. مجموعاً (۹٦۲) کیلو متر. این فاصله کوتاه ترین فاصله ترانزیت تجارتی میان افغانستان و بزرگترین بازار تجارتی جهان (چین) است که نکات مهم این شاهراه را میتوان چنین خلاصه کرد:

۱. دسترسی افغانستان به بزرگترین و ارزانترین بازار جهانی (چین).
۲. ایجاد کار در ساخت و ساز و تجارت در مسیر این شاهراه.
۳. انکشاف جهان گردی در ولایات در مسیر این شاهراه.
٤. تسریع انکشاف اقتصادی افغانستان.
٥. افزایش حجم صادرات میان افغانستان و چین.
٦. مفاد اقتصادی ناشی از حق العبور ترانزیت میان چین و خاور میانه از طریق این شاهراه کوتاه.
۷. امنیت افغانستان و منطقه.
۸. دور زدن همسایه های مغرض.
۹. بهترین بدیل در پهلوی سایر شاهراه های ترانزیتی به نفع افغانستان و منطقه.
۱۰. پروسس مواد خام افغانستان در تاسیسات زیر بنائی کشور چین.

چالش ها و مشکلات مختلف درونی و بیرونی بر سر راه تطبیق این پروژه بزرگ:

۱. چالش های داخلی که باید حل شود:
a. نا امنی.
b. منافع محلی.
c. عدم موجودیت پلان های موثر ملی.
d. کم توجهی دولت مرکزی.
e. بودجه.
۲. چالش های بیرونی که میتوان آن را به فرصت تبدیل کرد:
a. رقابت های قدرت های بزرگ منطقه و جهان.
b. مداخلات منفی گرایانه همسایه های افغانستان.

**ماخذ ها:**

ضیائی، م. (۲۰۱۳، اپریل ٢٤). شاهراه بدخشان چین، اهمیت اقتصادی و چالش ها. Retrieved from کابل پرس: html.https://www.kabulpress.org/article١٥٤٣٣١
فرهیختگان. (۱٤۰۰، ١٦٦). پنجشیر کجاست؟. Retrieved from فرهیختگان: https://farhikhtegandaily.com/news
ویکیپدیا. (n.d.). مرز افغانستان–چین. Retrieved فیبروری ۲۰، ۲۰۲۳، from ویکیپیدیا، دانشنامه آزاد: https://fa.wikipedia.org

# اعلانات داوطلبی

## داوطلبی خبرتیا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي، چي د کابل ښاروالۍ (۵) مي ناحيې اړوند کوټه سنګي کي د نظيف مارکېټ (۱۲) بابه دوکانونه په جلا - جلا ډول د (۱) کال لپاره د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وړاندي کړي.
۱- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۲۲ نمبر دوکان چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۰۰۰۰) افغانۍ ده.
۲- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۲۳ نمبر دوکان چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۰۰۰۰) افغانۍ ده.
۳- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۲٦-۲۷ نمبر دوکان چي ۳۰ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.
۴- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۲۸ نمبر دوکان چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۵- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۲۹ نمبر دوکان چي۱۵ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
٦- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۳۰ نمبر دوکان چي۱۵ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۷- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۳۱ نمبر دوکان چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۸- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۳۲ نمبر دوکان چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۹- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۳۳ نمبر دوکان چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۱۰- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۳٤ نمبر دوکان چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۱۱- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۳۵ نمبر دوکان چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۱۲- د نظيف مارکېټ اړوند، یو باب A۳٦ نمبر دوکان چي ۱۸ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦-۳٤,٥١٥٢٧٢
هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونيسي، کولای سي چي خپل غوښتنليکونه د (۱۴۰۳/ لړم/ ۰۱) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/لړم/۲۱) پوري د دولتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مديريت.
د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/ لړم/ ۲۲) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

## اعلان داوطلبی

مستوفیت ولایت بلخ (۱۲) باب دوکان و دو باب تهکوی واقع داخل مارکیت انصاف مندوی شهر مزار شریف راکه قرار ذیل میباشد از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان می سپارد.
۱- دوکان شماره اول به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۲۲۰۰ افغانی
۲- دوکان شماره دوم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۲۲۰۰ افغانی
۳- دوکان شماره سوم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۲۲۰۰ افغانی.
٤- دوکان شماره چهارم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۲۲۰۰ افغانی.
٥- دوکان شماره پنجم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۲۲۰۰ افغانی.
٦- دوکان شماره ششم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۲۲۰۰ افغانی.
۷- دوکان شماره هفتم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۱۲۰۰ افغانی.
۸- دوکان شماره هشتم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۱۲۰۰ افغانی.
۹- دکان شماره نهم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۱۲۰۰ افغانی.
۱۰- دوکان شماره دهم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۱۲۰۰ افغانی.
۱۱- دوکان شماره یازدهم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۱۲۰۰ افغانی.
۱۲- دوکان شماره دوازدهم به مساحت ۱۳,۸٥ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ۱۲۰۰ افغانی.
۱۳- تهکوی شمالی به مساحت ٤٤ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ٥۰۰۰ افغانی.
۱٤- تهکوی جنوبی به مساحب ٤٤ متر مربع به اساس کرایه قبلی ماهوار مبلغ ٥۰۰۰ افغانی.
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دکاکین فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ (۲٦ میزان ۱٤۰۳ الی ١٦ عقرب سال ۱٤۰۳) به مدیریت عمومی املاك مازاد دولتی مستوفیت ولایت بلخ تسلیم نموده شرطنامه و آفر داوطلبی را اخذ نمایند.
مجلس داوطلبی به تاریخ: ۱۷ عقرب سال ۱٤۰۳ به ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر برگزار میگردد.
آدرس مستوفیت ولایت بلخ جاده بیهقی.
شماره های تماس: ۰۷۸۰٦٦٦۳۱۱-۰۷۸۳۷۷۰۷۲۰
GPS: ۳٦,۷۱٦٦۰۹-٦۷,۱۰۹٤٤۷

## داوطلبی خبرتیا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي، چي د کابل ښاروالۍ لومړۍ او څلورمي ناحيې اړوند لاندي (۲) دولتي ملکیتونو په جلا - جلا ډول د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وړاندي کړي.
۱ - د کابل ښاروالۍ (۴) مي ناحيې اړوند انصاري څلور لارې کي یو باب اپارتمان چي (۱۳۲) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۲۱۱۷٦) افغانۍ ده، چي د (۳) کلونو لپاره په کرایه ورکول کېږي.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر):
٦۹,۱٦٥٦۰۷- ۳٤,٥۳۲٦٥
۲- د سینما پامیر (۱۴) پوړيزي ودانۍ لومړي پوړ کي یو باب (۲۱) نمبر غرفه چي (۸.۹۳) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳٥٥۰۰) افغانۍ ده د (۳) کلونو لپاره په کرایه ورکول کېږي.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ٦۹,۱٦٥٦۰۷ - ۳٤,٥۳۲٦٥
هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونيسي، کولای سي چي خپل غوښتنليکونه د (۱۴۰۳/میزان/ ۲۹) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/ عقرب/۰۵) پوري د دولتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مديريت.
د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/ عقرب/ ۰٦) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)

شنبه| د ربیع الثاني ۲۳-۱۴۴٦ل س/ د لړم ۵-۱۴۰۳ل ل/ د اکتوبر ۲٦-۲۰۲۴ز/خلورم کال / ۱۲۰ ګڼه/ ٤ مخیزه






# افغانستان ممکن د بریکس په اوسنۍ یا راتلونکې غونډه کې ګډون وکړي




د تاس ـ TASS په نوم د روسیې خبري اژانس راپور ور کوي، چې وایي افغانستان به ښایي د بریکس - BRICS (برازیل، روسیه، هندوستان، چین او سوېلي افریقا) هیوادونو په اوسنۍ یا هم راتلونکې غونډه کې ګډون وکړي. د افغانستان د اسلامي امارت د صنایعو او سوداګرۍ وزیر ښاغلي نورالدین عزیزي صاحب وینا، راپور په دې انداز رانقل کړې ده: "د افغانستان یو پلاوی ښایي په کازان کې د بریکس په روانه غونډه کې برخه واخلي یا دا چې په راتلونکې هغې غونډه کې ګډون وکړي، چې د دغه سازمان له خوا جوړېږي." عزیزي صاحب راپور ته ویلي دي، چې دوی د غونډې د ګډون له بابته بریکس هیوادونو ته لیک لېږلی دئ، چې هغوی ور باندې غور کوي. وایي کله چې د بریکس اداره پرېکړه وکړي؛ نو دوی به هم د پرېکړې چانس پیدا کړي. په راپور کې بیا هم د ښاغلي وزیر صاحب د خبرو په استناد سره راغلي دي، چې افغانستان به د منتظر هیواد په توګه ګډون وکړي. تاس زیاتوي، چې د رسنیو د راپورونو له مخې د اسلامي امارت چارواکو د سیپټمبر په میاشت کې د کازان په ښار کې د بریکس په سرمشریزه کې د افغان پلاوي د ګډون له پاره غوښتنلیک استولی وو.

# Minister of Finance Introduces New Deputy Minister of Customs & Revenues Amid Addressing Meeting




Based on the order of H H Amirul Momineen (may Allah almighty protect him), Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed was introduced to the employees of DM for Customs and Revenues of MoF under the chairmanship of the Minister of Finance, Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund and a number of high-ranking officials. "You should carry out your responsibilities with full sincerity and honesty, and listen to the requests of public in an atmosphere of good behavior and reach them on time", Hon. Minister of Finance recommended. It is worth mentioning that Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed served as the 'General Director of Customs' before the new burden, and under his leadership, MoF has observed improvements and developments in the activities of customs as hosted significant achievements.

# General Directorate of Customs Constructs, Utilizes Solar Power System at Paktika Customs

With regard to the modernization of customs and the activation of e-systems by MoF, the General Directorate of Customs has provided solar power system to Paktika Customs with a capacity of 60KW worth 7.2 million Afs. Before the inauguration of the aforementioned system, an electric generator was used at the said customs house, which consumed about 2,000L of fuel per month. "By activating the solar power system, on the one hand, we may scrounge and on the other hand, the work of the customs office will be speeded up", added the officials. Noticeably, MoF tries to provide the necessary equipment and facilities to facilitate businessmen and employees at all customs offices.



"IEA is committed for implementing sustainable energy projects; therefore, MoF has removed the old and out of order system as inaugurated new solar power system with a capacity of 60KW worth 7.2 million Afs to maintain renewable energy instead of fossil fuels."

## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.
ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.